Kandahar. Kabul
Vol.3, No.6, Sumbulah 1341
(August 1962)

کندهار



د شهیدانو ښځلی

خال

مهتر خضر ئې په عمر خریدار شو
چې ئې «خال» غلام د مخ په نخاس ونیو
حمید ماشوخېل

«خال» په منځ دورو ځوا یښې زه حیران یم
چې کارګه له ایندو څنګه نه توریږي
علی خان خټک

شنه «خالونه» چې د پاسه پر جبین ږدې
دا زما پر زړه داغونه آتشین ږدې
پیر محمد کاکړ

چې د هر سړی خاطر په ګرفتار دی
اول زلفی، دوهم «خال»، دریم رخسار دی
قلندر

په زړه داغ لکه لاله شوم په تن کوږ لکه هاله شوم
چې دی وګوم صنمی «خال» دورو ځو په بیوند
خواجه رزق الله

چې نه «خال» لری، نه زلفی، نه سرې شونډی
څوک به څه وائی چې لمر د آشنا سیال دی
خوشال شهید

«خال» د مخ ئې په ورځ ګرزوم په زړه کی
د شپې تل په خوب کی شمس ؤ قمر وینم
رحمت سدوزی

زرغونیږی بنفشه له هغو خاورو
چې شین «خال» به ؤ د ښکلیو په مخو کی
عبدالشکور رشاد

«خال» د یار چې اقتدا می بسې کړله
تر منځ پټ سو هغه زما امام په زلفو
عبدالرؤف مخلص

کشکی «خال» ستا د تندی وای یا د زنی
چې پر مخ دی ځلېدای ښکلی مېرمنی
یوسف ویران

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
29 MAR 2005
6 CONTINUATION 6

اعلیحضرت معظم همایونی محمد ظاهر شاه زموږ محبوب او ګران
ټولواک چې د هیواد خپلواکۍ ئې ترسیوری لاندی
ساتلی شوی او د ژوندانه په هره برخه کی د افغانی
جامعې شاندار ترقی په نصیب شوی دی

اعلیحضرت شهید سعید محمد نادرشاه [رح]
د استقلال ګټندوی او د افغانستان د ټولو
مادی او معنوی ترقیو مؤسس

مرحوم والاحضرت مارشال شاه محمود خان
غازی چی د استقلال په جنګ کی
ځې لویه برخه درلوده

والاحضرت غازی مارشال شاولی خان د
کابل فاتح چی دوطن دخپلواکی لپاره
ځې لویې فداکاری کړی دی

د استقلال خلمی چی د افغان ملت
د فداکاریو خاطرې تازه کوی

کندهار

میاشتنی خپرونه

ادبی . تاریخی . اجتماعی . علمی

مسئول چلاونکی:

ا، م «کرزی»

اداره: د شهیدانو واټ

د دولتی مطبعی څنګ ته

د ۱۳۴۱ لمریز کال د [سنبلې] میاشت

د ۱۹۶۲ میلادی کال د [ستمبر] «

د دریم کال "شپږمه ګڼه

پرله پسې ګڼه [۳۰]

کالنی «بیه»

په کندهار کی [۲۸] افغانی

په دننه مملکت کی [۳۲] «

په دباندنیو هیوادو کی یوډالر

ددې ګڼې مضامین

دپښتنو د استقلال ٤٤ کالنۍ	په [۱] مخ کی
په ادبیاتو کی محیط تاثیر	» [۳] » »
ان د خلکو هغه ادبیات خوش دی چی....	» [۷] » »
سید نور محمد شاه صدر اعظم	» [۹] » »
شیان او جریانات	» [۱۵] » »
[د آزادۍ شپېلۍ ته]	» [۱۸] » »
[پر ګلانو باندی پاس زده قدم ورو ورو]	» [۲۱] » »
[حریت]	» [۲۲] » »
ښاغلی سید احمد «ګلزار»	» [۲۰] » »
د بوه داسی واده مراسم چی په....	» [۲۶] » »
او رولا آبشتت	» [۲۷] » »
د املا په باب د پښتو ټولنی فیصلې	» [۰۹] » »

د پښتنو د استقلال ٤٤ کالیزه

پښتون هغه ملت دی چی دایشیا
په زړه کی دآمو او اباسیند په
منځ کی ژوند کوی دا ملت
ځانلره روښانه تاریخ او ځلانده
کولتورلری ددې ملت دمېړانی
کارنامې تراوسه تاریخ په
وباړ ساتلی او خوندی کړیدی
څرنګه چی دنیا دحوادثو ځای
دی او ټول وخت دملتو تاریخ
پریوه حال ولاړ نه وی ښې او
بدی ورځی دنړۍ ټولو قومونو
تیری کړی دی خو ددنیا هغه
ملت بختور دی چی دبدو ورځو
زمانه ئې لنډه وی او ژر ئې د
خپل قومی سرنوشت واګی په
خپل لاس کی نیولی وی .
٤٤ کاله دمخه دشرق او افریقا
هیوادونه د لوېدیځ استعمار
له خوا بېرحمانه استثمار کېدل
ددې پراخ سرزمین زیاترو
ولسونو خپل سیاسی استقلال
او ملی حاکمیت بایللی ؤ ددې
ولسونو اقتصادی منابع دپردو
په لاس کی وه او د زحمت له
محصول څخه ئې دغرب پانګه-
والو خپلی چړچې کولې دژوند
بدې دوره کی نه یوازی دا
ولسونه دخپل مدنی پېشرفت
څخه محروم پاتی شول بلکه د
انسانی حقوقو اساسونه ئې هم
لتاړ شول .
کوم وخت چی استعماری توره
تیاره برهند وغوړېدله نو زموږ
ملی استقلال ئې هم دڅو مدې
دپاره دسیاسی نیرنګ دلاری
را څخه غصب کړ خو ډېر ژر
افغانی جامعه راویښه شوه او د
استعمار په نیرنګ پوه شوه
که څه هم په نړۍ کی داستعما-
ری سیاست اساسونه لاتینګ
او دتسلط فرمانونه ئې چلېدل
خو پښتنو پخپله فطری مېړانه
او سربازی سره داسی ریکارډ
قایم کړ چی د نورو استعمار
شویو ملتونو دپاره د سرمشق
سبب شو .
موږ په دې سره ویاړو او دخپلو
نیکه ګانو دقربانی ستاینه کوو
چی د ژوند د اسبابونو دنه
درلودلو سره ئې بیا هم داستعمار
ستر طاقت مات کړ او خپل
بشری حق ئې لاس ته راوړ، له
دینه وروسته موږ دخپلی ملی
ازادی خاوندان شولو او دمدنی
ژوند دنیمګړتیاؤ په پوره کولو
مولاس پوری کړ له هغی نېټې
څخه بیا تر نن پوری زموږ د
ژوند دښه کېدو په لار کی ښا-
یسته ډېر کارونه شوی دی په
تېره بیا داعلیحضرت المتوکل
علی الله محمد ظاهر شاه زموږ د
محبوب تولواک په فرخنده عصر
کی دژوند ډېر مظاهر راغونډ
شوی او ډېری نیمګړتیاوی
پوره شوی دی په دې روښانه
عصر کی دملک، معارف، اقتصاد
تجارت، زراعت، ترانسپورټ
او دژوند نورو مدنی اړخونو
ته خورا کلګه توجه شوېده
چی دهمدې شیانو دانکشافی
اغیرو له اثره نن دمملکت په
هرګوټ کی دترقی او تمدن
آثار لیدل کېږی او موږ ته دیوه
روښانه مستقبل زېری راکوی
په تېره بیا دښاغلی سردار محمد-
داؤد صدراعظم په حکومت کی
دبېطرفۍ او دآزاد قضاوت د
سیاست په رڼا کی د انکشافی
پلانو مهم اساسونه تعمیم شوی
او داجتماعی نهضت پلوشې
خپرې شوی دی معارف په بې-

ساری دول براخیا مومی او
صنایع موخپل تولیدات عرضه
کوی د سرکانو د جوړیدلو
کاریه دیره بیره جاری دی د
الوتکو پروازونه دمسافرانو
ارمال التجاری دورلو وار اوږدلو
بهغرض فضا تیا بسته کړی اوپه
هرځای کی دالوتکو میدانونه
بهبشپړ شوی او یا ترتعمیر
لاندی دی .
بله غټه موضوع چی د ښاغلی
صدراعظم دحکومت بهوخت
کی ورته دیره پاملرنه شوهده
هغه دپښتونستان دخودارادیت
مسئله ده دامسئله دافغانستان
دحال اواستقبال دپاره ژوند
اومرګ اهمیت لری نوځکه
نوموړی سردار چی دمملکت
فداکار اوسیاسی غوره شخصیت
دی ددې موضوع دحصول بهلار
کی ئې دیر زحمت کالی اوږد
ستونځو سره مخامخ شوی دی
خوتن چی موږ دخپل استقلال
خاطره توی کوو دلوی خدای
څخه دا التجا کوو چی زموږ
پښتونستانی ورونه هم دخپل
سرنوشت خاوندان اود ښادو
ورځو څښتنان کړی .
به بسای کی د افغانستان د
خپلواکی اود ترقی دپاره د
اعلیحضرت محمد ظاهرشاه تر
سیوری لاندی لاسونه پورته
کوم اوه استقلال دلاری د
شهیدانو و یا کو اروحونو نه
د زړه لښه کومی سلامونه
ورلیږم . ایم د کرزی .

مرګیه

مرګیه ! ای د زوند وروستنی وفا ! راشه او زما سره بتی خبری وکړه .
ورځی، ورځی تیری شوې چی زه ستا به انتظار کی ناست یم ستا به خاطر زه دزوند مصیبتونه او خوښی کالم .

څه چی زه یم، څه چی زما آرزوګانی او هرڅه چی تراوسه لرم حتی زما دعشق بت راز دا توله تا نه کوری . ستاد ستر کو بوکانه به زما توله ژوند دهمیشه دپاره ستا کړی . کلونه وبیوهل شوه

امیل دناوی دپارة تیار دی، تروادی وروسته به ناوې خپل کور برابزدی اود خپل څښتن سره به بوازی دتوری شپې دتنهائی به کوټه کی بوځای شی .

[تا کور]

ښاغلی عبدالباری «آشنا»

په ادبیاتو کی د محیط تاثیر

دمخه ترتا کلی موضوع بله یووار دمحیط په شاوخوا کی لیکلی وزغیږو بیا به په اصل مطلب پیل وکو:-
محیط عبارت له هغو شیانو څخه دی چی بو سری په خپل ژوند کی دهغه سره هروخت اوهر کړی مخامخ
وی اوربط ورسره ولری نودا شیان مادی که معنوی وی مثلا دامتو کنی لحای، عصر، زمانه، آب وهوا
یعنی دهغه لحای سوروالی، تودوالی، خورك، چینګاښ، عادات، رسومات، دین، مذهب، حکومت
آزادی، اسارت، نو له محیط
سره تعبیر کیږی دا عوامل
انسان ترخپل تاثیر لاندی نیسی
یعنی روح او جسم دواړو ئی
کلکه اغیزه لری مرحوم
«بهار» دایران ملك الشعرا
تردی عنوان لاندی [تاثیر محیط
بر ادبیات] محیط داسی
تعبیر وی:-
[نول طبیعی موثرات لکه
آب وهوا، غذا اولحای اودهغو
منتسبه اومربوط عوارض لکه
دینی، سیاسی، علمی، افکار
اوتاریخی حوادث اود هغوی
مربوطی نتیجی لیکه غالبیت او
مغلوبیت، لیږدیدنه کدون او
اورچی دیوه ملت محیط کنل
کیږی هر کله دیوه ملت پر
ادبی آثارو، اخلاقی اوعمومی
افکارو تاثیر اچوی او یو
مخصوص رنګ اوډول ورکوی.

اوس به بیرته خپل مرادنه راسو
ښکاره ده چی دمختلفو اوبهلو
ولسو ادبیات اویا دیوه ولس
ادبیات دهغه ولس دژوندیه *

*مختلفو بهیرو او بهلو مرحلو
کی دتخیل، اسلوب، مادی او
معنوی حالاتو او کم ؤ کیف په
لحاظ سره جلا اوغټ توبیر
اری او دا اختلافات هروخت
موجود او نسی کیدلای چی د
دؤملتو ادبیات دی له هرڅیثه
سره یوشی او برابر وی، بله!

نودا ادبی جلاوالی کوم داسی
عوامل اری چی هروخت ددغه
اختلاف ساتونکی اوعلل و بلل
سی؟ هوا به نری که هیڅ
معلول بی علته نلری نودا ادبی
اختلاف هم چی دیوه ملت ادب
ئی دبل ملت د ادبه سره اری
یائی دیوه ملت دیوی دوری
ادب دبلی دوری سره اری ضرور
علل او موجبات اری چی ادبیات
د هغو ترتاثیر لاندی دی اود
هغو داغیزی به سبب جلاوالی
موهی چی مهم ترین علل ئی
محیط بلل کیږی، د محیط
اغیزه نه یوازی پر ادب ده
بلکه انسانان هم لدغه تاثیره
ځان نسی ژغورلای مثلاً معلومه
خبره ده چی دتودوځایو خلک
دخپل طبیعی محیط د تاثیر په
سبب سست او بیکاره وی ځکه
چی دغه دول محیط دانسان

فعالیت کموی او په نتیجه کی انسان تنبل او بېکاره وی خو د سړو ځایو تاثیر بیا د تودو ځایو د تاثیر څخه جلا او بېل دی او هلته خلک د کار او زحمت په واسطه چی د هغه محیط تقاضا ده ډېر تکړه او فکری وجسمی قوت ئې نسبت د تودو ځایو و خلکو ته ډېر وی په معتدلو مناطقو کی بیا دا تاثیر بل ډول وی او د غره ژوندون بیا لدغه څخه هم جلا او بېل تاثیر لری د غره اوسېدونکی تل د طبیعت سره لاس ؤ گرېوان دی او دا ډول ژوند نه یوازی پر جسم تاثیر لری بلکه پر روح هم اغیزه کوی، زړه ورتوب او د آزاد ژوند حس قوی کوی، د غه رنگه د ساحل او جزیرو خلک بیا د مخصوصو عاداتو او بېلو اخلاقو خاوندان وی.

نو څرنگه چی محیط او ماحول د انسان پر جسم، اخلاقو عاداتو او ټولو سجایاؤ اغیزه لری د غه ډول پر شعر او ادب چی د انسان د احساساتو او افکارو مولود وباله سی کلکه اغیزه اچوی او تر خپل تاثیر لاندی ئې راولی او لکه د یوه ملت خلک چی د محیطی اغیزې په سبب د بل ملت د خلکو سره اخلاقی، شکلی او فکری توپیر لری ادبیات ئې هم پدغه اندازه یو د بل سره بېل او جلا شکل لری.

مثلاً که د مختلفو ملتو پر ادبیاتو یو نظر وکړو نو معلومه به سی چی یونانیان په خپلو ادبیاتو کی ډېرو کومېدی او تراجیدی ډرامو ته متوجه وه، هندیان په ادب کی د استعمارو او غریبو تشبیهاتو او قصه ویلو څخه ډېر کار اخلی، پارسیانو و غنائی او تصنعی اشعارو ته توجه کړېده، او رومیانو بیا خطابې ته ډېر اهمیت ورکاوه، د غه ډول د عربو په ادبیاتو کی فخر او حماسه ځای لری او د پښتنو په ادبیاتو کی تل د آزادۍ او طبیعت قوی روح نغښتی وی پدې ډول که د ملتو و ادبیاتو ته ځیر شو دا ډول غټ خصوصیات او بارز ممیزات ډېر لیدلای سو.

د غه رنگه اجتماعی محیط (تاریخ، دین، اخلاق، ژبه، اقتصاد سیاست او....) هم ادب تر خپل تاثیر لاندی نیسی جلا رنگ او بېل خوند ورکوی مثلاً مغلوب ملت چی د اسارت جغ ئې پر څټ پروت وی فکری مظاهر یا ادبیات ئې د حماسی او رزمی خوا څخه خالی وی، د لوړوالی یا پهلوانۍ او مړانی نوم نه اخلی د فکری تراوشاتو موضوع ئې صبر، د دنیا او عمر بېوفائی.... وی مگر د یوه بریالی او غالب ملت شعری او ادبی روح بیا بل ډول او بېل خصوصیات لری په ادبیاتو کی ئې جنگی او حماسی اشعار ډېر ښکاری خپل بریالی توب، د دښمن ماته، د جنگ میدان یا د خپلو تورو بریدئې د اشعارو محور وی، یا د یوه متدین ملت ادبیات او اشعار تل د دینی او مذهبی قوانینو ارشاد کوی او په هره اندازه چی ئې دینی پیروی او مذهبی پابندی ډېره وی په هغه اندازه ئې مذهبی افکار په ادبیاتو کی ښه بریښی له دې څخه معلومه ده چی اجتماعی محیط د یوه ملت په ادب باندی ډېره اغیزه لری د دې مطلب د اثبات د پاره که یوازی د پښتو ادبیات په مختلفو دورو کی مقایسه سی او د هری دورې په ادبیاتو کی د محیط اغیزې و کتل سی نو به دا ښکاره سی چی محیط تر کومی اندازې موثر دی مثلاً د پښتو ادبیات په لومړۍ دوره کی یعنی د اسلام له پیله بیا

د ۹۰۰ یا ۱۰۰۰ هجری پوری هغه خصوصیات اری چی په راوروسته دورو کی نه پیدا کیږی خاص بیا هغه اشعار چی په دوهمه، دریمه او څلرمه هجری پیړی کی ویل سوی دی ددې دورې اشعارو نه چی کورو اوزان ئې ټول خپل دی، ژبه ئې سوچه ده، اسلوب ئې ساده او طبیعی دی، ایری تشبیهات کنائی او استعارات یکښی نه شته، فخر و یار نه حماسه او عشق ئې مهم موضوعات دی، یه عمومی ډول ددې دورې ادب د طبیعت یه دائره کی یه ساده او طبیعی ډول د پښتنو آمال او آرزوگانی ښکاره کوی، مستقل اوزان او مخصوص سبك اری لکه دامیر [کرور] ویار نه چی د پښتو د شعر یه مخصوص وزن، سوچه او شعری ژبه ویل سوې ده :-

زه یم زمری پردې ټری لـه ما اتل نسته
یه هندو سیندو یه تخار او بز کابل نسته

بل یه زابل نسته
له ما اتـل نسته

غشی دمن می محی بر پښتنا بر مهر ځمغو باندی
یه ژوبله یو نم بر غالم بر تښتیدو نو باندی

یه ماتیدو نو باندی
له ما اتـل نسته

زما دیری برخول تاو یږی هسك یه تمنځ و یه ویار
د آس له سو و می مخکه ریږدی غرو نه کاندم لتار

کرم ایوا دو نه و یجار
له ما اتـل نسته

زما دتوری ترشپول لاندی دی هرات و جروم
غرج و بامیان و تخار بولی نوم زمایه اودوم

زه پیژندوی یم یه روم
له ما اتـل نسته

دا شعر تر یایه یه دغسی سوچه پښتو ویل سوې دی او یو بر دی لغت یکښی نسته دا جتماعی محیط یعنی د نورو ژبو د تاثیر څخه خلاص دی، پښتو ئې سوچه او لغات ئې ټول خپل دی دا فکار و طرز ئې طبیعی او ساده دی او یه ملی وزن ویل سوی دی، مگر بدغه دوره کی ترامیر کرور یوه پیړی وروسته چی د عربی ژبی لغوی او ادبی اغیزې د پښتو و محیطی ادبیاتو نه رسیدلی دی نو عربی فکر او رنگ یه هغو کی ښکاره دی لیکه دا بو محمد هاشم شعر چی د عربی شعر څخه ئې اخذ کړی دی او هغه ئې یه پښتو اړولی دی :-

ژبه هم ښه وینا کانـدی چی ئې وینه
د خاوند یـه لاس کی زر او درهمونه

ژبـور ورله راجـی وینا ئې اروی
د درهم خاوندان تـل وی یه ویار نه

که څه هم یدې شعر کی د پښتو یخوانی لغات او نها بیرسته خو بیاهم د عربی فکر او عربی ژبی لغات یکښی ښه ښکاره دی، خو هغو ځایونه چی د عربی یا پارسی ژبو اثر ندی رسیدلی که څه هم یه زمانه کی تر هاشم وروسته دی بیائې هم ژبه د ماحول له اغیزې یا که ده فکر ئې خپل دی او لغات ئې ټول خپل دی لکه د بیت یا یا مناجات :-

او یـه خدایه ، او یه خدایه
ستا یه مینه یـه هر ځایه

غر ولار دی د رناوی کی
توله ژوی یه زاری کی

دلته دی د غرو لمنی
زموږ کښی دی د یکښی پلمنی

دا وکړی د هر کړې خدایه
او یـه خدایه ! او یه خدایه

پدې شعر کې پردې کلمه نشته او فقط د خدای مشترکه کلمه لري، لنډې داچې که څه هم ددې دورې په آخر کې د پارسي او عربي ژبو اغیزه ښکاره ده خو سره له هغه پښتو ژبې خپل متانت او سوچه والي دومره د لاسه نه دی ورکړی لکه په وروسته دوره کې مګر دوهمه دوره چې له ۹۰۰ هجري څخه شروع کیږي او ۲۰۰ کاله دوام کوي پدې دوره کې د پښتو ادبیات له دمخنی دورې څخه تقریباً له هره حیثه بېل دی ځکه چې پدې دوره کې د اسلام د خپرېدو سره مذهبي افکارو عمومیت پیدا کړی دی او علاوه پر هغه د عربي ژبې لغات او د شعر اوزان په پښتو ادب کې ځای سوی دی د پارسي ژبې اغیزه هم پدې دوره کې ښکاره ده ځکه چې دا د مغولو زمانه ده د پښتنو او مغولو د جنګ وخت دی نو پدغه سبب جنګي او حماسي اشعار ډېر لیدل کېږي خصوصاً د خوشحال خان په اشعارو کې د دغه جنګو تاثیر ښه ښکاره دی او د لومړۍ دورې د ادبیاتو سره ئې د لفظ او معنی له حیثه غټ فرق پیدا کړی دی.

دغه رنګه د ریمه او څلرمه دوره هره یوه بېل خصوصیات او ممیزات لري او یوه د بلې سره نسي تطبیق کېدلای چې د دې اختلاف مهم سبب د محیط اختلاف او اغیزه ده.

دغسې هم د پارسي ادبیات د محیط د تاثیر په سبب د یوې زمانې دا د بلې زمانې څخه فرق لري او پدغه لحاظ پر څو مختلفو دورو وېشل سوی دی او هره دوره ئې بېل خصوصیات لري چې د پارسي ادب څلور مهم سبکونه لکه خراساني سبک، عراقي سبک، هندي سبک او نوي سبک هم د دې ادعا ښه مصداق دی، دغه رنګه په اروپائي ادبیاتو کې د محیط او ظروفو مکان او زمان اغیزه ښه ښکاري او د هغو د ادبیاتو مختلف سبکونه لکه کلاسیک رومانتیک، ریلیزم، نیچرلیزم سنبولیزم او نوره دا ثابتوي چې محیط څومره په ادبیاتو کې تاثیر لري له یوه ډوله ئې بل ډول ته اړوي په موضوع عبارت، معنی او الفاظو کې تغیر راولي او په هر څه ئې لاس وهي.

ښکلا

ښکلا حقیقت دی او حقیقت ښکلا. [...]

یو ښکلی شی جاویدانی نشاط دی. [جان کیتر]

ځینې خلک مېوې نارسېدلی او اومې خوري، ښکلا هم لدې مېوو څخه ده. [الفونس کار]

د نر ښکلا دده د ژبې فصاحت دی. [...]

د ښځې ښکلا د دې هنر او کمال دی. [...]

د نر ښکلا پدې کې ده چې له هغو شیانو څخه لیری شي چې دده سره ور نه وي. [...]

په نړۍ کې د ښځې نر ښکلا بل موثر معلم او ښوونکی نسته. [شکسپیر]

ښکلی ښځه سترګو ته لذت بخښي او نجیبه ښځه زړه خوشاله کوي، لومړی نه پیو دل شوی مرغلره ده او دوهمه ګرانبها خزانه ده. [بالزاك]

ښکلا بې دوامه ظلم دی. [سقراط]

ښاغلی م. عطائی

نن دخلکو هغه ادبیات خوښ دی

چې د واقعیت په چوکاټ کې وي

ادبیات ددې عصر دژوندانه په برخه کې ډېرلوی رول لوبوي. یوسترلیکوال داخبره ډېره پېژندګای کړېده چې د اوسنی ژوندلپاره ادبیات دمالګې حیثیت لري، لکه په خوړو کې چې مالګه بولازمي شرط دی، همداډول نن ادبیات دژوندلپاره ضروري شرط ګرزېدلی دی.

نن چې دنړۍ په نورو برخو کې کوم تحول راغلی اولا داترقۍ دتکامل پرلوړو پاچېکې پسې روانې دی، نوهغه په ادبیاتو کې هم ښه برخه لري او نن ادبیات دومره مترقي دي چې دانساني ټولنو د پېشرفتو سره پېوره همنوائي کولای شي.

داد بیاتو ترقي داجتماعي شرایطو د بدلون سره په رجوع راغلې ده لکه نن چې بوشمېر بشري ټولنې داجتماعي ترقیو په لړ کې پر واقعي لار روانې شوي نو ددوی ادبیات هم د واقعیت چوکاټ ته واړېدل.

کوم ادبیات چې نن په مترقي ټولنو کې پالل کېږي هغه دریالېزم (واقعیت) دمکتب پیرو دی دامکتب چې داوی پېړۍ د لیکوالو له خوا په وجود راغلی غواړي چې اجتماعي منظري په واقعي ادبیاتو کې ځای کړي او همداوجه ده چې د خلکو زیاته علاقه او داچسپې ئې جلب کړېده.

د ۱۸ او ۱۹ پېړیو استعماري اوامپریالستي اوضاعو په ادبیاتو کې داسې تاثیر وکړ چې هغه ئې پرېوه نوی لار برابر کړه اوداڅلار دولسوانو دفردافرد د زړه سره ترلې ده.

که څه هم د پخوانیو ادبیاتو خیال پرستو [رومانتیک] لیکوالو ډېر زیاتوالیست چې د ریالستیک ادب مخه ونیسي خو څرنګه چې داادب دولسونو له بطن څخه راوتلی او د نوی عصر د نوی مغز و محصول ګڼو نو داوچې په نام موفقیت پرلار روان سو اولا پرمخ پسې درومي.

په ریالستیک ادب کې تر تولو دمخه انتقاد ضرور دی، یعنې بولیکوال که غواړي چې کوم ادبي مضمون ولیکي باید مخ کې ترهغه دهغه نتیجه دخلکو پرژوندانه وکوري او داجتماعي جریانات هغه پټ اړخ تفسیر کړي چې دافرادو له نظر څخه وتلی او ضمناً دهغه بد اړخونه تنقید کړي.

دلته دیو توریوسنی پاریغائي لیکوال یوه ادبي پارچه راوړو چې داستعمار خیلی ژوند حکاایت کوي دالیکوال داقریقاد نوکودی چې تاینډو نومیږي او نوکو خو نوهغه مخکه وه چې د یورپ خلک به راتلل او ددې ځای خلک به ئې ښکار کول او څرنګه چې داخلک دېرقوي اوغټ وه نوهغه به ئې

دلویو فابریکو او کښتیو بر مالکانو خرخول تو کو یو داسی مار کپټ ؤ چی همیشه به انسانان یکښی خرخېدل . داده هغه یارچه چی تومودی لیکوال لیکی اود انسانانود ښکاریوه منظره خرکندوی [دزرغونو بونوله ها خواخخه برموزدسره اور باران چورسو بوکړی لانه ؤ نهرسوی چی د اسمان شین مخ خرو دودانو ونیوی... زموزد کندالوخخه خوښخی اوواره دیو کړی له مخی به سرو وینو کی لت بر لت واوښتل .

د کنو خرو خپل بارونه وغوز- ځول اوبه کنو کروو انونل دهغوچر کو غالمغال بووحشت ویاخاوه چی دخـرو بربارو برسپره نړل شوی وه .

موږ ټوله سمدستی بوه سوو چی واقعه د څه قراره ده او دارانه معلومه شوه چی دمدنیت دانسان وژونکو ښکاریانو به پنجه ورغلو .

هغه پیشبینی بیـخی درسته شوه چی زموږ مېرمنو د کدی نواولو په وخت کی کړي وه اودلاری برهر بیچومی به ئې داحتیاط اخطـار راکاوه د خرو دودانو له منځ څخه خو سوریومتی چاغ اوبه غرښو بت خلک راښکاره سوه چی هر یوه به زوره، زوره خندل دوی به اشاره زموږ ځوانان او د غښتلو متو خـاوندان له ښځو او ورو څخه بېل کړه اومو تان ئې به کلکو تناؤ ور ونـړل او د ځـان سره ئې بـوتلل .

یوې مېرمنی بدې وخت کی خپل مېره نه پـه وبر ژړلې آواز ورناري کړه ، یوار مخ راواړوه چی ....

چی ودی وینم، آه... بیا خو لوزه اونا نه سو سره لیدلای].

داپارچه رښتیا یو واقعی ادب تمثیلوی اودیو داسی ظلم حکا- یت کوی چی هغه درد پـه هر ځای کی د خلـکو احساس پاروی شی .

خوننی ادبیات باید دواقعیت به پوښ کی وی اوتنقیدی روح باید ولری، ځکه خلک همداسی ادب خوښ اری .

خلوریځه

کله چی نـه وای، زه در سره وای
د سپوږمی شپه وای شپه هم بخه وای
ښ کی روانو او بـو بر غـاړه
د خوب یا د کر سترګو کـانه وای

د عبدالهادی هوتک

بناغلی «رشاد» [د کندهار نومیالی]

سید نور محمد شاه

صدر اعظم

کله چې د استعمار پاداسکو غوښتله چې د شرق پېړۍ د مرګ تابه د ګرداب په کومې نغبا سې د استعماري متجاوزینو له خوا د افغانستان د سیاسي ژوند او اجتماعي ترکیب د سلب او تجزئې لپاره هم پله پوري او غښتلی کوښښونه جاري ؤ امادې خاوري د همدغه کوښښو د پرضد مجادلې ډاګ ته ډېر مېړونه وړاندې کړل چې یو له هغو څخه سید نور محمد شاه پوشنجی (پښېنګی) دی.

موږ به تاریخي صفحاتو کې ددې سیاسي شخصیت د نامه سره د امیر شیر علیخان په دوهم امارت ۱۲۸۵-۱۲۹۶ کې آشنا کېږو او رانه څرګندېږي چې د مرحوم امیر شیر علیخان د دوهم امارت په نهضت، ترقي او سیاسي فعالیتو کې ددې شخصیت لویه برخه وه.

[د د صدارت] د ۱۲۹۰ هجري کال د روژې په ۲۵ ورځ امیر شیر علیخان د یوې اوه کسیزې اساسي او منظمې کابینې تشکیل وکړ چې په هغه کې ئې سید نور محمد شاه پښېنګی د صدارت لپاره وټاکه که څه هم پخوا تر دې نومورې د امیر شیر علیخان له اهمو او ورنېږو همکارانو څخه ؤ اما لدغه تاریخه څخه دده لقب رسماً [صدر اعظم] یا [اوی تول مختار] تعین شو یدی [شمس النهار] چې د امیر شیر علیخان د عصر یو الحینې جریده ده داخبر داسې لیکي:-

ترقي مدارج د افغانستان قدیمان خود را بر افزای قدر
که هر کز نه بینی ز پرورده غدر

چونکه از عرصهٔ دراز منظور نظر کمیا اثری بندگان اشرف، امر صاحب بهادر خلد الله ملکه چنان بود که اشخاصیکه از قدیم معروف خدمات بوده در انجام امور مأمورهٔ خود کوتاهی نورزیده اند و پیرامون اشجاری شجر بی ثمر غداری نه گردیده علی الدوام سر رشتهٔ اخلاص را از دست نداده اند ترقی اوعان به مناصب جلیله کرده شود و نیز چونکه الحال نظم و نسق مملکت به نسبت سابق زیاد گردیده ترقی و رفاهیت و امنیت رعایا به ظهور رسد بنا بر ظهور خیال مبارک به تاریخ ۲۵ ماه رمضان المبارک یوم دوشنبه سال ۱۲۹۰ ترقی اشخاص ذیل به مناصب رفیعه به ظهور رسید.

[اعنی]

عالیجاه رفیع جایگاه عزت و سعادت دستگاه سیادت پناه سید نور محمد شاه صاحب را که عرصهٔ دراز سر گرم خدمات شایستهٔ دولتی بوده در انجام امور مامورهٔ خود حتی الوسع دریغ نفرموده و نیز شخص نجیب الطرفین از اعاظم سادات پشین متعلقهٔ قندهار و ملازم

قدیم این سلطنت ودر دیانت و لیاقت ممتاز بوده به عهده رفیعهٔ جلیلهٔ صدراعظم ومختار الملك دولت افغانستان مقرر نموده به خلعت فاخره سرافراز نمودند ترجمهٔ القاب اوشان در زبان صلابت بنیان افغانی «لوی تول مختار» است .

دهغه عصر دشعراؤ په هغو قصا- یدو کی چی د همدې موضوع په وصف کی لیکلی شوېدی راوړی .

محمدجان وائی :-

چون شد آراسته مانند عروسان این بزم
گشت هر هفت از آن هفت وزیر باشان
شاه ما هیبت بگردون جهان آرایی
سبعه سیاره اش هفت وزیر ای یاران

اولش «نور محمد شاه» و صدراعظم تول مختار بود منصب آن والاشان

واصل وائی :-

محفل عیش به هر گوشهٔ آراسته شد
خاصه در مجلسی مینووش این هفت وزیر
صدراعظم که بزرگان جهانش خوانند
«لوی مختار» فلك قدر فلاطون تدبیر

رشیدوائی :-

علی الخصوص وزیران صاحب تدبیر
که نامش برقم بود چون قمر تابان
نخست «نور محمد» لوی تول مختار است
خطاب دیگر آنرا تو صدراعظم خوان

دسید نور محمد شاه سیاسی فعالیتونه

دانبالی کنفرانس

په ۱۲۸۶ه کال کی امیر شیر- علیخان دهند دویسرا [لارډ- مایو] له خوا د دوستانه روابطو د ټینګار د خبرواترو لپاره امبالی ته محترمانه دعوت کړه شو دا کنفرانس هلته د ۱۸۶۸ عیسوی کال د مارچ په ۲۷ ورځ افتتاح شو دافغانستان له خوا پخپله امیر شیر علیخان او سید نور محمد شاه او د انګریزانو له خوا [لارډ مایو] د هند د وایسرا د ملکه وکټورئی د نماینده په حیث لارډ نیپر دهند لوی سپهسالار او سیتن کار د هند خارجه وزیر بدې کنفرانس کی لمړی ورځ ګډون درلود

ددې کنفرانس نور مجلسونه دسید نور محمد شاه او سیتن کار [دهند د خارجه وزیر] ترمنځ د ډاکتر ګری په ترجمانی وشول اما د سید نور محمد شاه پنځه ورځی مسلسل اصرار او کوښښ ونه کړای شوای چی انګریزان د پښتنې پیشنهاداتو د یوې مادې منلو ته حاضر کړی .

دا کنفرانس ناکام شو او امیر شیر علیخان او سید نور محمد شاه بیرته کابل ته راستانه شول .

د سیستان شخړه

په ۱۲۸۸ه کال کی د ایران سره د سیستان د سرحد او دهلمند د داو بو دویش لپاره دافغانستان له خوا سید نور محمد شاه سیستان ته ولاړ هلته تر ایرانی هیئت علاوه دانګلیسانو یوه ډله هم د حکمیت په غرض حاضره شوې وه مشهور غړی ئې سر ریچارډ پالك او ګولډ سمت ؤ دې انګلیسی هیئت ددې لپاره چی د ایران او افغانستان ترمنځ د نفاق زنی وکړی او ددې بېلتون له امله د شرق مقاومت د خپلو استعماری پلانو په مقابل کی لاښه ضعیف کړی بېله کوم تاریخی او حقوقی حق څخه ئې د هلمند په کښته نیو او بو کی ایران د

۵۰ میلو په اوږدو شریك وګاڼه سید نور محمد شاه او امیر شیر علیخان ددې حکمیت پر ضد احتجاج وکړ انګلیسانو د امیر شیر علیخان د ترضیې لپاره پنځه لکه روپۍ له خپلې خوا امیر صاحب ته وړاندې کړې اما امیر صاحب دهغه له قبول څخه انکار وکړ او داخپل احتجاج ئې پرېښود سید نور محمد شاه پدې سفر کې د طهران دربار ته هم ولاړ او بیرته د بحیرهٔ عرب او بمبئی له خوا کابل ته په خوراچټکی راستون شو.

د سملې کنفرانس

ځکه چې امیر شیر علیخان د سیستان په شخړه کې د انګلیسی هیئت ناجایز او منافقانه حکمیت له انګلیسانو څخه خوابدی کړی ؤ نو دهندوایسرا [لارډ نارت بروك] ددې خوابدیو دازالی لپاره د امیر صاحب څخه وغوښتل چې یو انګریز نماینده دی یو پلا کابل ته پرېښوول شی چې هلته د امیر صاحب سره ووینی.

امیر صاحب د انګریزانو دا غوښتنه په یوه عام دربار کې ملت ته وړاندې کړله او داسې فیصله وشوه [د انګریزانو نماینده دی کابل ته نه پرېښووه کېږی] نو امیر صاحب د سملې کنفرانس ته له خپلې خوا سید نور محمد شاه وټاکه او سید نور محمد شاه هم د ۱۲۹۰ کال د صفری په میاشت کې [۲۵ د اپریل ۱۸۷۳ عیسوی کال] سملې ته وخوځېد هلته ئې خورا تود او محترم هر کلی وشو د ۱۲۹۰ کال د دوهمی خور یعنی پر پنځمه د جولائی د ۱۸۷۳ عیسوی کال ئې دهند دویسرا لارډ نارت بروك او دهند د خارجه وزیر [ایچ زن] سره ئې ولیدل او د سیستان په شخړو کې ئې د انګلیسی هیئت ناانصافی وغندله او د روسانو د سریع پېشرفت خطرات او د افغانی عساکرو د یوه اژر او غښتلی تسلیح او تجهیز ضرورت ئې په خوراسیاسی مهارت اظهار کړ کوم چې انګلیسی هیئت په مزار هرات او کندهار کې د خپلو حربی او سیاسی نمایندګانو د قبول غوښتنه وکړه سید نور محمد شاه وویل زه باور نلرم چې امیر صاحب به ستاسی دا غوښتنه ومنی زه چې دهند د حکومت په بلنه صرف د برطانوی دولت د هیلو او آرزوګانو داورېدلو لپاره دلته راغلی یم د هیڅ یوې قطعی فیصلې واك نه لرم.

د ۱۸۷۳ عیسوی کال د اګست په میاشت کې سید نور محمد شاه بیرته کابل ته ستون شو.

د پېښور کنفرانس

د ۱۲۹۱ هـ کال د ذی الحجې په میاشت کې سالسبوری [د انګلستان په کابینه کې دهند وزیر] دهندوایسرا نارت بروك ته فارورډ پالیسی (د پېش قدمی د سیاست) تلقین وکړ؛ نارت بروك دهندوایسرا د افغانستان خوا ته د پرمختګ د سیاست مخالفت وکړ او د همدې مخالفت په سبب د ۱۲۹۳ کال د محرمی په میاشت کې دهند د اعلی حکومت څخه مستعفی او ځای ئې لارډ لیتن ته وسپارل شو سمدستی انګریزانو خپلې لښکری پر بلوچستان را وبهولې او کوټه ئې چې د ۱۲۵۸ کال راهیسی د هغې معاهدې له مخې چې د قلات د خان میر نصیر خان او افغانستان ترمنځ شوې وه او د افغانستان جزو وه ونیوله او هلته ئې یوه عسکری قشله هم ودانه کړه

او په وزیرستان کی هم دیوې عسکری ودانی لپاره سړی ولیږل براباسین ئې خوشالګر ته نژدې یو پل ودان کړ او د کشمیر مهاراجه ته ئې د ګلګت له لاری د چترال خوا ته د فوج د لیږولو امر وکړ.

لارډ لیتن له هری خوا په افغانستان کی د سیاسی او حربی نمایندګانو د منلو لپاره خورا سخت فشار ونه راوړل ځکه نو امیر شیرعلیخان یو سیاسی هیئت د سید نور محمد شاه صدراعظم په مشرتیا به وګماره چی پېښور ته ولاړ شی او هلته د انګلیسی واکمنو سره د برطانوی مطلبانو د نه منلو د مجبوریت په شاوخوا کی ږغیږی دا کنفرانس د ۱۲۹٤ هـ کال د صفری په لمړیو ورځو کی مطابق له ۳۰ سره د جنوری د ۱۸۷۷ عیسوی کال په پېښور کی منعقد شوی دی کنفرانس کی لوئیس بیلی برطانوی نماینده د افغانی هیئت د مشر سید نور محمد شاه د دلایلو په مقابل کی ډېر ځله ناکام شو دا کنفرانس پسله شلو ورځو څخه د دې لپاره چی طرفین د خپلو آمرینو څخه نوی هدایات واخلی د مارچ د ۱۵ تاریخ پوری معطل شو د ۱۲۹٤ هـ کال په لمړی خور کی چی د هند د وایسرا جواب لوئس بیلی ته راورسېد هغه لا د کنفرانس

د ناکامی او د افغانی هیئت د یأس لپاره باعث شو اما سید نور محمد شاه افغانی صدر اعظم د دې لیک پراخیستلو سر

بېره بیا هم غوښته چی د برطانوی هیئت سره د هغو د مفاهمې لپاره نوری هم خبری اتری بسې اوږدې کړی اما لوئس بیلی

انکار وکړ وې ویل د وایسرا امر قطعی دی بدې ترڅ کی سید نور محمد شاه ناروغه شو امیر صاحب د دې لپاره چی د مذاکراتو سلسلې ونشلیږی حبیب الله خان لوی ملک (مستوفی الممالک) ئې پېښور ته د سید نور محمد شاه پر ځای ولیږه

اما دا افغانی مستوفی لا تر سرحد نه ؤ وراوښتی چی لوئس بیلی د وایسرا د مارچ د ۳۰ تاریخ د

قاطع تلګرام په اثر ده ته د کنفرانس ختم اعلان کړ.

دده وفات

لکه څنګه چی پورته ویل شوی دی سید نور محمد شاه په پېښور کی ناروغه شو او هلته د همدغی

ناروغی او روحی فشار په سبب د لمړی خور په منځ کی د ۱۲۹٤ هـ سنې چی مطابق له

۲۷ سره د مارچ د ۱۸۷۷ سنې کېږی وفات شو د امیر شیرعلی خان په امر ئې جنازه له پېښور

څخه کابل ته راوړه شوه او د یک لنګه په کوتل کی ئې د امیر په امر د سلطنت ولیعهد

شاهزاده عبدالله جان او د سلطنتی اراکینو یوه لویه ډله مخی ته ورغلل او دا د وطن یوه رښتین

وزیر ئې په خورا عزت او احترام د کابل په شهدای صالحین کی خاورو ته وسپاره

خدای دی وبخښی.

کورنی او اولاد

مرحوم سید نور محمد شاه د

سید سلیمان شاه ذ دریمی ښځی زوی دی نسبی سلسله ئې تر کومه ځایه چی ښکارده داسی ده

سید نور محمد شاه د سید سلیمان

شاه د سید بیګ محمد شاه (سید بیګی) د سید موسی د سید صدو د سید موسی د سید هوری د سید علی د سید میران د سید رسول

د سید حامد زوی دی چی د پښین د شین غری سیدانو ستر مشر ؤ او د پښین د علیزی تپی د سنزلی کاریز امر لویدیز پلوته په

شین غری کلی کی اوسید د سید نور محمد شاه اکا سید زمان شاه نومیدی چی مرحوم سید عطا محمد شاه مشهوره خط ط دده لمسی ؤ .

د سید نور محمد شاه سکنی وروڼه سید ګل محمد شاه سید امان الله [چی په کوچنیوالی کی مړ دی] او میریزی وروڼه ئی سید بیکر

سید رحمت، سید یوسف، سید کریمداد او سید عبدالله ؤ .

سید ګل محمد شاه ئی د امیر عبدالرحمن خان په امر مړ او

د مرنجان د تپی په لمن کی ښخ کړه شو د سید نور محمد شاه زوی سید محمد نومیدی چی د سراج-

التواریخ [ ] جلد په [ ] مخ کی ئی هم ذکر راغلی دی د سید محمد پنځه زامن وه

وه نومونه ئی دادی سید عبدالشکور، سید عبدالقدوس سید عبدالصمد، سید عبدالاحد سید عبدالرسول ؤ چی د سید

عبدالرسول زامن ئی سید عبداللطیف او سید عبدالمجید نومیږی اوس هم په کندهار کی ژوندی دی .

د امیر شیرعلیخان خطونه د سید پنامه له هغو خطوڅخه چی د امیر شیرعلیخان له خوا د سید پنامه لیکل شویدی دوه خطونه

د سید په کورنی کی ساتلی پاته دی .

[لومړی لیك]

تقطیع ۵×۸ انچه سپین کاغذ

خورا پیکه لیکی لری ددی خط پر شا د امیر شیرعلیخان مهر سته تاریخ نلری کوم دولتی نښان هم پر نسته ځکه چی د

سیستان په شخړی پوری اړه لری نو تاریخ ئی د ۱۲۸۷ هـ د پای ورځی او یا د ۱۲۸۸ هـ

کال لومړنی ورځی تا کلی کېدلای شی د لیك مضمون دادی :-

عالیجاه عزت و سعادت دستگاه سلاله سادات الکرام سید نور محمد شاه سلمه الله تعالی بعد از شرح مراتب لطف و مهربانی مرقوم میدارد و مراسله دوستی

علامهٔ مشفق مهربان میجر جنرپالك صاحب بهادر و عالیجاه عزت و سعادت نشان صفدر علی خان بمطالعهٔ انور والا گذارش

یافته خورسندی حاصل و بر ینکه صاحب بهادر مذکور یوم چهارشنبه ٤ ذی الحجه روانه سمت مقصود شده اند

اطلاع واصل شد مخفی نماند که از گرشك تا خاك سیستان سوارهای هلمندی را حکم شد چهار چهار سوار منزل به منزل

نشته خریطه کاغذی شما را دست بدست بشما برسانند و خطوط شما نیز بهمین طریق بگرشك رسانیده از آنجا بداك پیاده

بحضور والا برسد حالی باشد باقی از ینطرف بفضل الهی خیریت است فقط .

[درهم لیك]

تقطیع ۵×۸ انچ شین غوندی خورا پیکه لیکی لری ددی لیك تاریخ د ۱۲۹۰ د دریمی

خور ۲۰ ده د امیر شیرعلیخان
مهر ئې دلیك په پای کی ستة
دواړه مخونه ئې لیکل سویدی
دالیك د بدخشان په واقعاتو

پوری اړه لری مضمون ئې
دادی :-
عالیجاه عزت همرا سلالته السادات
الکرام سید نور محمد شاه

سلمه الله تعالی بعد از شرح
ملاطفت و مهربانی واضح
میدارد عریضهٔ صدق فریضهٔ یوم
شنبه ۹ شهر جمادی الاول یوم

یکشنبه ۱۷ به مطالعهٔ و
ملاحظهٔ والا در آمده احوالات
مندرجهٔ حالی رای عالی شد.

احوالات سمت بدخشان را
سابقاً همان است که بتکرار
برای شما رقم زده و از ورود
عالیجاه عزت و بسالت همرا

نائب محمد علم خان در خاك
بدخشان مطلع شده اید.
چون عالیجا راستی و صداقت
همرا میر محمود شاه خان هوا-

دار این دولت خداداد است
سابق از ورود عالیجاه نائب
محمد علم خان در خاك بدخشان
عریضه جات میر محمود شاه

خان بحضور انور رسیده این
معنی را معروض داشته بود که
مردم بدخشی از کمال نادانی
و جهالت فطری که دارند هر

آینه در مقام خیره سری و هرزه
درائی پیش بر آمده اند سر-
کار والا قول عالیجاه مذکور
را به جهت که او از مردم بدخشی

آزرده گی زیاد داشت محل
اعتماد ندانسته حمل بر غرض
میفرمودند و حال آنکه مشار-
الیه بر حال مردم بدخشی خوب

آگاه بوده چون مردم بدخشی
بدون سبب و علت در مقام خلاف
و نزاع و شورش و فشار بر آمده

هر قدر از طرف عالیجاه نائب-
الحکومه دلجوئی و نوازش و
اکرام درباره آنها به تقدیم
رسید دست از شور و آشور و

بغی و طغیان بر نداشته چون
مقدر الهی بود که هزارها نفر
این طایفه خیره سر عرضهٔ شمشیر
و به هزارها آدم اسیر و دستگیر

شود همین است که سپا نصرت
پناه به دفع مادهٔ فساد مفسدین
بر آمده دفعهٔ دو مقدمه اتفاق
افتاد جمعیت بدخشی پراگنده

و پریشان و خاك بدخشان از
خاشاك وجود آنها بکلی پاك
شد شرح مقدمه ها از کتابچه
علیحده حالی شما خواهد شد
از ین طرف به لطف الهی خاطر
خود را در همه باب جمع دارید
و احوال خیریت خود را یومیه
قلمی و ارسال دارید فقط
تحریر چهارشنبه ۲۰ شهر
جادی الاول ۱۲۹۰ .

«مهر امیر شیرعلیخان»

[غوره ویناوی]

انسانی مقام

د انسان عالی مقام ستاسی په
مخ کی دی په لاس ئې راوړی.
[شیللر]

انسانان

انسان تراوسه لا دخپل دونی
لوی والی سره داسی انسانان
سوی ندی چی و کولای سی
یوازی دخپل انسانی عقل په
په امر کار وکړی . دا خبره ده
چی وینو دیوې چنګښی یا یوې
خزدکی افسانه دپوهانو او
فیلسوفانو تر خبرو ډېر دخلکو
په مغز کی نفوذ کوی .
تراوسه پوری انسان خپلی ډېری
لوئی تجربې او معارف تر خپل
ځان د کښتو او وضعیفو حیوانانو
څخه زده کړیدی. [لافونتن]

د [ماوریس کارنفورت] لیکنه:

د ښاغلی «نومیالی» ترجمه

شیان او جریانات

زموږ مربوطی چاری چی هر
څنګه وی خو موږ هر کله د
[شیانو] او د [جریاناتو] سره
مخامخ یو، راسیء چی یو ډېر

ساده مثال وګورو یو ځای مثلاً
یو غونډه سوېده او یو سړی پدې
باب کی چی هلته څه وسوه غواړی
یو رپوټ تیار کړی. نو څرنګه

دی باید دا بیان وکړی؟ دی
البته بیان داسی کوی:-
پردل، کندل، او مېردل
حاضر سوی وه. دوی مېژ ته

ګرداورده په چوکیو کی
کښېنستل او پدې کی ئې
مذاکره وکړه چی څه وکړی،
پدغه رپوټ کی نو هم د شیانو

او هم د جریاناتو بیان راغلی
دی. پردل، کوندل، مېردل
مېز او چوکیانی دا [شیان]
دی او د دوی کښېنسته او ږغېده

[جریانات] دی داویل کېدای
سی چی پدې بیان کی د تفکر

دوې اساسی کیټاګوری په
کار لوېدلی دی او دا ښائی
زده سی چی د چارو د هر حالت
هر بیان چی وی هر کله تر دغه

منطقي مثال لاندی راتلای سی
د چارو د کوم حالت او د پېښو
د کومی نتیجې په باب کی لومړی
د دې خبری په باب کی بیان

دی چی [څه شیانو هلته ګډون
درلودی] او دوهم د دې خبری
په باب کی بیان دی چی [څه
جریانات هلته پېښ سوه].

[د یالیکټیکس] د دې خبری
له زده کولو څخه را شروع
کېږی چی څرنګه [شیان] او
[جریانات] په لازمی ډول سره

تړلی دی.
د دې لیدنه بالکل آسانه ده
چی جریانات پر شیانو باندی
مشتمل دی که تاسی غواړیء

چی د یو جریان پهٔ باره کی
وږغېږیء نو هر کله تاسی و

شیانو ته بوڅه مراجعه هم کوی
مثلاً یوه مذاکره د خلکو
ترمنځ یوه مذاکره، د سونګ
یو جریان دی او داسی هم نور

که تاسی غواری د یو داسی
جریان په باره کی وږغیږی
لکه دا چی باد چلیږی نو بیا
تاسی ته در معلومیږی چی دغه

چلاو د هوا د [مالیکیولونو]
له یوه حرکته څخه جوړیږی
همدارنګه برقی جریانات د
[الیکټرونو] پر حرکت مشتمل

دی.
دا خبره چی په جریاناتو کی
ږغېده صرف پدې باب کی ږغېده
دی چی څه پېښی و شیانو ته

ور پېښیږی، ښائی دې نتیجې ته
موخطا باسی چی شیان نو تر
جریاناتو ډېر بنیادی او اساسی
حیثیت لری. رشتیا هم دا هغه

نتیجه ده چی د ډېرو فلاسفه ؤ
له خوا را ایستلی سوېده، مثلاً

د [برتراندرسل] له خوا کله
چې ده کښلې دې چې نړۍ لدې
څخه جوړه ده چې [شیان دې
دخپلو کیفیاتو اوروا بطوسره]

خودغسې یوه نتیجه ډېره خطا
ایستونکې ده ځکه که د تصویر
هغه بل اړخ دسړی له نظره
اچوی او هغه داچې! باید وویل

سې، شیان بخپله [له جریاناتو
څخه جوړ سوې دی] دمثال دپاره
یوسړی فرض کړی . دده په
بدن کې حیاتي جریانات روان

دې چې هغه د وینې دوران
هضمي نظام، ډول ډول عصبي
کارونه او د [میتابولزم] پرله
پسې جریانات دي. په یوه تاکلي

شکل کې ددغه جریاناتو پرله
پسې پېښېده ددغه هستې جوړوي
پلهره لار چې دې جریاناتو نه
تغیرور کې نو دی تغیر کوي .

که کدغې تغیرور کې نو دی
مړی او دوجود خاتمه ئې راځي
که ناسې ددغو تولو حیاتي
جریاناتو په باره کې وزغېږي

اودا هم په زغېدو کښېباسي
چې څرنګه داجریانات یو له
بله سره تړلي دي او یو په بله

کې اغیزه لري او تر دوی په
دباندې دنیا کې هم ددوی اثرات
بیان کړي نو کوبا ناسې [دده]
په باره کې یوه زغېدلې باست

بدن نو پرته دهغو جریاناتو له
مجموعې څخه چې دې ئې جوړ
کړېدي بل وجود نلري .
کټ مټ دغه شانې ملاحظات د

هرهغه شې په باره کې په کار
اوېدای سې چې غواړي ناسې
ئې میدان ته کې . دیوشې په
باب کې [نهایت] نسته ! دده

وجود دارومرو له جریاناتو څخه
راجوړ سوې دی لکه [اینګلز]
چې داخبره کړېده :[نړۍ
داسې نده چې دتیارو شیانو د

یو مخلوط په شان وفهمول سې
بلکه دجریاناتو دیو مخلوط
په شان ده چې په هغې کې شیان
په ظاهره ثابت دي... خو وجود

ته د راتلو او بېرته ځنې دتلو
دنه پرېکېدونکې تغیر په سلسله
کې رهې ده] .
[دا بیان دهغې لیکنې په څلرمه

برخه کې راغلې دې چې د
داوډوېك فیورباخ، ترعنوان
لاندې ئې کښلې دې .

رشتیاهم د علم د کار یوه غټه
برخه لدې کشفولو څخه عبارت
ده چې څه ډول جریانات رنګا-
رنګ شیان یا وجود راولي، تر

کومه حده چې موږ کولای سو
چې دا ومومو چې څرنګه شیان
له جریاناتو څخه راجوړ سوي
دي هغونه موږ ددوی خواص

مومو او داهم را معلومیږي چې
په بېلو بېلو شرائطو کې به دوی
ته څه ور پېښېږي او ددوی
سلوك څرنګه دی او څه ډول تر

اغېزې لاندې راوستل کېدای
سې او تغیرور کول کېدای سې .
څرنګه چې شیان له جریاناتو
څخه راجوړ سوي نو نا متغیر

غیر فاني یا په مطلق ډول ثابت
شیان چیرې نسته تو له شیان چې
وجود نه راځي هغه تغیر کوي
او له منځه وزي. ثبات د تغیر د

یوې درجې نوم دی مثلاً موږ
دیو داسې شې فکر کوو لکه
دځراغ لمبه چې دانو غیر ثابته
یا بې پایښته ده او دیو جسم په

قطار کې کرد سره نسې راتلای
دالمبه څر کیږي او په آسانۍ
له مابینه وزي او کېدلای سې

چی نورشیان په سهولت سره
پکښی تېرسی . خو له بله پلوه
بیا نو مېز یا یو چوکۍ یا یو
بشری بدن ډېر ثابت یا ډېر

پایښت والا دی. اوس نو شاعرانو
ژوند د څراغ دلمبې سره تشبیه
کړیدی او دا نو صرف یوه شعری
تشبیه نده بلکه یو صحیح فلسفی

حکم بلل کېږی، یوه لمبه له
تا کلو جریاناتو څخه راجوړ
سوېده او هر جسم [چی هر څنګه
په مقایسوی توګه ثابت یا پایښت

والاوی] همدغه شانی له جریا-
ناتو څخه جوړ دی. دغه حقیقت
ښه وختی لا د فلسفې په تاریخ
کی درک سوی ؤ کله چی یونانی

فیلسوف [هیراکلیټوس] په
رنګین کلام کی وکښه «نړۍ
تل تر تله یو ژوندی اور [وو]
[دی] او [وی به] چی په اندازه

بل سوی دی او په اندازه مړ
کېږی» .
نو تغیر کول که په معلومدازه
صورت وی او که نه وی خو د

شیانو وجود هر کله له تغیره
ډک دی، او دوی وجود ته راځی
تر ډېرو تغیراتو لاندی واقع

کېږی او بالاخره ئې وجود
ختمیږی. دغه حقیقت تل تر تله
د علم له خوا تائید سوی دی. ځینی
وخت دا فکر سویدی کله چی

پر مځکه باندی هر شی فانی
کېدونکی دی نو پخپله مځکه
لمر او ستوری ثابت او ابدی
دی خو نر کومه ځایه چی موږ

د [کازمیکی] جریاناتو په
باب پوهېدلی یو نو هغه بالکل
لدې مخالفه نتیجه راښئی چی
پخوا لا د [هیراکلیټوس]

غوندی فلاسفه ؤ او [شکسپیر]
غوندی شاعرانو له خوا را
ایستلی سوېده چی: [.... هو
په خپله داغټه کره او ټوله هغه

څه چی پکښی دی ګرده به
ړنګ سی...] همدا شانی ځینی
وخت سائنس پوهان [د بنیادی
ذراتو] په باره کی چی له دوی

څخه مادی نظام تیار سویدی .
پدې شان ږغېدلی دی چی لکه
دوی چی ابدی او غیر فانی دی .
خو اوس دا ذرات هم داسی

ملاحظه کېدای سی چی لکه
یو بل شی غوندی چی وجود ته
راتلونکی او بېرته ځنی تلونکی

«دلو یا نو وراشي»

انسان

یو انسان چی د خپل ژوند په
معنی او هدف و پوهیږی، خپل
ځان به نه یوازی د خپل ملت
دا فرادو سره یوشی وګڼی بلکه
د نورو ټولو انسانانو سره به
ئې مساوی و بولی . «تولستوی»

د ژوند معنی

د ژوند معنی په ښکلا او قدرت
کی باید و پلټل سی، زموږ د
ژوند هر ګړی باید تر دمخه
لوړ هدف ولري . «ګورکی»

سعادت

د ژوند هدف سعادت نه دی بلکه
سعادت ئې بشپړونکی دی .

دی، نو ځکه له دې څخه دا
خبره راوزی چی هر څنګه چی
موږ یو شی مطالعه کوو باید
هر کله دا په نظر کی ورسره

وساتو چی څرنګه داشی شروع
سو، څرنګه تغیر کولای سی او
څرنګه به وپای ته ورسیږی .
خو که دغه شی بل ډول ملاحظه

کو نو موږ نسو کولای چی
د هغه په باب کی یوه کافی
پوهنه ولرو .

ښاغلی سلیمان «لایق»

د آزادۍ شپېلۍ ته

اې شپېلۍ خوږې شپېلۍ زما د ترانو ژبې
اې د رټل شویو، ځپل شویو اوسیلو ژبې

اې د کاروانیانو، لیرینو اواوښېنو ژبې
اې په نورو شپو کې د چوپیا د عظمتو ژبې

اې د ځوان شپونکی د بې تعبیره ارمانو ژبې
اې د بې پناهو یتیمانو د سلګو ژبې

نن د خدای د پاره په مایوه مهربانی وکړه
زما د مضطربو ترانو ترجمانی وکړه

اې شپېلۍ خوږې شپېلۍ زما د ردونه ووایه
ووایه چې سوځم دا رسوا د ردونه ووایه

وې ښیه هغو ته چې آرزو لری احساس لری
یو ئې سه افشائې که دا پټ رازونه ووایه

سوځی می رګونه د دردونو د سازو سره
چیری کوم د ردمن ته دا رنګین سازونه ووایه

وردی که نغمو ته بیا رنګونه د دردو زما
وردی که د ردونه بیا خوږوالی د نغمو زما

سوځی می هډونه یو علاج زما د دردوو که
یو ښکلی تعبیر زما د سرکشو ارمانو وکه

زما له فریادو سره ملګری که نغمه خپله
ویښ که دغه قوم یو تدبیر د پښتنو وکه

دې جامدو غرونه حرکت ورکه قوت ورکه
زموږ سره ملګرې شه ملاتړ د زلزلو وکه

پرېږده د تېری او تجاوز سنګری ماتی شی
پرېږده چی د ظلم او استعمار ککری ماتی شی

یوسه زما دردونه زما له بلنده لمبو سره
زما له تندریزو خوځونکو ترانو سره

وې زغوه وې رېوه وې خوځوه وې لوله
زما له خون شریکو خپلو ورونو پښتنو سره

زما له ګرېوان څیرو پښو لوڅو بوتنو سره
زما له بې پناهو بې تاتو بو اوښبنو سره

ورشه د پښتون قام له دې غرو رغونو پاڅوه
بو ځل داویده زمری له دې خوبونو پاڅوه

خوب نه که راویښ شو به زلزل په زندانونه شی
لژند به په وینو کی واتونه اوښارونه شی

چوړ به هری پوراو مونتګمری کی محشرونه شی
مات به په پښو د انقلاب کی ځنځیرونه شی

اوښکی د مظلوم به بارانونه سیلابونه شی
زغ د آزادۍ به طوفانونه تندرونه شی

لوئی سختی نه دی غیرتمنونه له سر سره
سرغوڅ شوی ښه دی نه د نورو له افسر سره

اې شپېلۍ دا اښو کی زما په مخ باندی شعرونه دی
دا زما د دردونو ویلی شوی تعبیرونه دی

زه پښتون یم اوښکی می د یأس دژړا نه دی
دا زما له احساسه راوتلی ځنځیرونه دی

نه نه زه غلط شوم دا سرکشه طوفانو نه دی
دوب به کړی دښمن دا نافرمانه سیلاوو نه دی

سم به کمه دا سیل د دښمن د استعمار په کور
یعنی د غاصب د د بدبې او اقتدار په کور

درد زما ارزو زما اسره زما ارمان زما
دا ښکلی جهان زما د شعر گلستان زما

عشق زما وفا زما اولاد زما بنیاد زما
واړه دی قربان شی تر آزاد پښتونستان زما

هر داغ د سینې به می د گلو غوټۍ وسپړی
دا د غم نړۍ به شی جنت زما بستان زما

چیری که بر ښنا د آزادۍ پښتون ته وخندل
چیری که پښتون د استعمار په وینو لمبل

یوسه زما سندری د پښتون د انقلاب پلو
اې خوږی شپېلۍ د انقلاب او اضطراب پلو

زه له دې بې خوندۀ غاقبته بېزار شوی یم
یو می سه د تندر د طوفان او د سیلاب پلو

ډال می که خنجر می که سنگر د مرکو می که
رب د پاره بو می زه د وینو د تالاب پلو

ژرنده د اسمان می که د سر په کاسه وگرزی
زه به کام اوچت کړم د میدان د انتخاب پلو

دا زما قسم دی چی به مرمه له پښتو سره
یا به آزاد ژوند کوم له تولو پښتنو سره

«پخوانی ادب»

مرحوم حاجی جمعه
د ماشور

پر گلانو باندی پاس ږده قدم ورو، ورو

نن د باغ پرلوری نله کا صنم ورو، ورو
په خمار، خمار کاته کا همدم ورو، ورو

سره گلان به د باغ حسن ځنی پور کا
که ئې ولیدی د حسن ارم ورو، ورو

چیری نه وی چی دی پښې شی پرې آزاری
پر گلانو باندی پاس ږده قدم ورو، ورو

د بهار گلان به خاوری په مخ موږی
نازنین که په خندا سی خرم ورو، ورو

تازه والی د گلانو په شبنم وی
یار د ځان په خولو، وله کا هردم ورو، ورو

خماری سترگی چی پورته کړی خماری
نرگس گوری پشت پاته ! هردم ورو، ورو

د دیدن طاقت دی نه وینم په ځان کی
وآفتاب ته څوك کتلای سی سم ورو، ورو

د معشوق په مدح دمه د عاشق سی
ځکه لیکم ئې صفت په قلم ورو، ورو

[جمعه] خاوری نن د تللو عاشقانو
لاندی باسی اوسنی تر قدم ورو، ورو

ښاغلی عبدالشکور «رشاد»

حریت

دمجنون ژوندون به څه وی چی لیلا مری
څه په کار دی تش کالبد، چی زړه دچا مری

زړه ډیوه ده دا د ختو په قالب کی
خدا ومه کړې چی به دا ډیوه د چا مری

چی مرغه ولاړ سی قفس د ماتیدو دی
که به زړه مری، تش کوګل دی لا پخوا مری

هیڅ ممکن نه دی پابښت د هغه پیژی
زړه چی مری کالبد مجبور دی خامخا مری

[حریت] د هر ملت د بدن زړه دی
که دا نه ؤ هم ملت مری هم بقا مری

چی د بل د اسارت په لومه اړ شی
په هغو زړو کی غیرت، هو دی، غنا مری

ښاغلی «ویران»

ښاغلی

سید احمد «گلزار»

زموږ دولسی شاعرانو څخه یو ملا سید احمد دی چې پخوانی تخلص ئې «بېزار» او اوسنی ئې «گلزار» دی، نومـوړی د حاجی خیر محمد زوی د کندهار د ښار د اوسنی دوهمی نـاحیې د [منجاریانو] په کوڅه کی زېږېدلی دی خو اوس ئې استوګه د دریمی ناحیې د [خوګیانو] په کوڅه کی ده. ملا سید احمد په ۱۳۰۱ش کال ودنیا ته راغی چې پدې شمېر ئې سن اوس څلوېښتو کالو ته رسیږی، په ۱۳۱۳ش کال ئې ددې ځای په لومړنی ښوونځی کی په درس پیل کړی او تر دریمی تولګی پوری ئې ویلی دی

پدې وخت کی د پښې دماتېدو په عذر له ښوونځی څخه پاته سوی او د کور سره نژدې ئې په یوه ماجت کی سبق ته دوام پسې ور کړېدی چې د دغه ځای د ملایانو څخه ئې په خصوصی توګه مروج عربی او فارسی کتابونه لوستی دی.

په ۱۳۲۱ش کال دده د کسب او کار دوره شروع کېږی ځکه چې پدغه کال ئې پلار وفات سوی او د ژوندانه اړتیاؤ د پـورة کولو د پاره ئې [په مصنوعی ګلانو جوړولو] پیل کړیدی چې ددې لاری څخه به ئې ډوډۍ پیدا کول، پدې ترڅ کی ئې د ګلانو جوړولو په کار کی ښه مهارت هم په نصیب سو، دده په اشعارو او ابیاتو کی ددې کسب یادونه هم پدې ډول ده کړېده:-

د قدرت د ګل پېښې کولای نسی
که څه هم ډېر ښایسته دی زما ګلان

ور پسې ئې د چینی لوښو د پټری کولو د کان راویوست او تر ډېرو کلو پدې کار بوخت ؤ ددې کسب یادونه هم ده پدې ډول کړېده:-

د خوږ منو د زړګیو خوږ کلام یم
رغوونکی د چینیانو د درزو زه

بالاخره دهغی مفرطی علاقی او ډېر میل په وجه چې د تخنیکی چارو سره ئې درلود نو ئې د پخوانه لاس ورواچاوه اوس د یوې داسی وړو کی موسسې څښتن دی چې په هغه کی برقی ژرندی جوړوی

د ولډنګ کار او د ځینو پرزو ترمیم دده له عادي کار وڅخه دی، دا ګړی چې زه ددې سوانح په لیکلو لګیایم. ښاغلی سید احمد [د ولډنګ د یوه ترانسپرمر په جوړولو بوخت دی].

ملا سید احمد د شعر او ادب د نیاته هغه وخت راګډ سوی دی چې په ښوونځی کې ئې سبق وایه.

نوموړی وائی چې لومړی غزل مې په ۱۳۱۵ ش کال جوړه کړیده. دده د غزلو شمېر و ۶۰۰ ته رسېدلی دی چې څه برخه ئې په طلوع افغان کې چاپ سوی هم ده یوه هم غیر مطبوع د فکاهیاتو مجموعه لری چې ۳۰۰ پارچو ته رسیږی او دا ئې ډېر کلونه پخوا لیکلی ده. آخرین ادبی خدمت ئې د یوه کتاب خپرول دی چې د [ګلزار سید احمد] پنامه څو واره چاپ سویدی او د خلکو د ډېری تقاضا په سبب اوس په بازار کې لږ موندل کېږی دا کتاب د ډېرو پښتنو شاعرانو د غزلو مجموعه ده چې دا غزلی وطنی سندرغاړی د ساز و سره وائی ملا سید احمد د ښه آواز څښتن او په موسیقی کې کې هم لاس لری.

نوموړی د خپلو خوږو خاطراتو په لړ کې دا خبره تل یاد وی چې دده په دکان کې به د کندهار ولسی شاعرانو، لیکوالو او عالمانو ناسته ولاړه درلودله په زیاته بیا مرحوم حاجی رحمت الله بابا مرحوم عبدالله شاعر د سپین بولدك، آغاجان د میر بازار، سید عبدالله جان دارغنداو دده استاد عبدالحکیم شیدا، محمد نسیم نوری او نور ډېر شاعران چې نومونه یادول ئې دا لیکنه اوږدوی د دغه محفل علمی او ادبی څېړنو به د استفادې وړ پر ډېرو ملګرو پرانستلی ؤ.

کومی مشاعرې چې په طلوع افغان کې به خپرېدې طرح به ئې دلته کېده.

نور نو ښاغلی سید احمد یو د ژوندۀ ډك، نورانی خنده رویه سړی دی د آشنائی پاس لری.

له ډېرو کلو راهیسی مو دده یو تازه شعر نه دی لیدلی، لکه چې د تخنیك پنډو، پنډو پرزو ئې د شعر او شاعری ناز کې پرزې ورماتی کړیدی خو د پخوانی اثارو څخه ئې دا دوې توتې دلته راوړو:-

«۱»

یووالی

لاس دی په لاس کې راله راکه د الفته څخه
درس دی حاصل که مسلمانه له اخوته څخه

هغه پر سر په کاڼی وله چې دوی اچوی
بل کار ئې نسته د نامرد بې شیطانته څخه

ښه راته وګوره، ښه به ګورم چې ورور ئې سکه
ګوښی له کین، هم راجلاسه د نفرته څخه

تل لاس په لاس او یوه زړه به و مقصد لره ځو
سو به کامیابه که کار واخلو د وحدته څخه

په یوه لاس نه کېږی کار دا به ښکاره وی درته
په دوو لاسو کې قوت ډېروی له هیبته څخه

مسه بېزاره په لمسون او شیطانت د دښمن
لاس را تر غاړه که راځه له محبته څخه

«۲»

یوه غزل

ذ فلك په گردش سوم زېرؤ زبر
بېطالع سوم د بد دوست په اثر

هغه یار چې د زړگی ترسر راتېرؤ
د وصال سهار ئې سو ژېړ مازیگر

جهان ټوله بېوفا گلرخو چور کی
مخلص نسته تر کوسانه تر خیبر

همېشه دځان ستاینه اوصفت دی
درته وائی چې زه یم یاقوت احمر

که هر څو فکر مذعف کړی دده ذات ته
در معلوم به نسی حال ذ نصب وجر

یو څو ورځی ذی په ښو نومونو ستائی
بیادی سپك کی دغماشی تر وزر

ستاله قصده دغماز پر څنگ رهی وی
په بازار کی په خندا وهی چکر

لویه خدایه منافق ؤ غماز دواړه
د هجران په تېشه کړې کنډو کپر

دزړه حال که ذی وایه بېزاره بل ته
منصور وار به دی سرغوڅ سی په خنجر

دیوهانو یخې خبری

ښځی ؟!

که غواړیء چې دیوه ولس دپرمختگ او تمدن اندازه معلومه کړی نو د هغه ولس ښځی وگوریء . [ناپلیون]

په هر ښکلی شی کی دښځی دښکلا یوه نمونه پرته ده . [خوستل]

دنړۍ ټوله خزانې دیوې هوښیاری ښځی دنوك سره برابرېدای نشی . [یوچینائی متل]

دیوې ناجوړی ټولنی لپاره دښځی لاس د نارینه تر عقل پوره کار کوی . [....]

ښځی یواځی پخپل غېږ کی وړو کو ته ځای نه ور کوی بلکه ولسونه په غېږ کی نیسی . [کینه]

ښځو اختراعات نه دی کړی خو مخترعین ئې روزلی دی . [ادین]

که غواړیء چې دیوې ټولنی د تمدن سویه وپېژنی نو پوهو ښځو پرشمارئی ښه کولای سی همېشه لومړی نصیحت دښځی څخه واوری . [چینی متل]

په هغه کور کی چې ښځه نه وی همېشه به دخرابۍ په معرض کی واقع وی . [....]

تر هر بالښت دمور غېږ پسته ده او تر هر ښکلی گل دښځی دخندا ډکه خوله ښکلی ده . [....]

دهر لوی کارمنشا ښځه ده . [لامارتین]

زموږ نکلونه

ښاغلی «هارونی»

دیوه واده داسی مراسم چی په دسیسه شروع سوه او په خوشالی بشپړه سوه

دنړۍ ټوله ولسونه او قامونه دواده په مناسبت عجیبی و غریبی خبری او ډول ډول دودونه لری خو زموږ هغې که تر هغو بالا نه وی کم هم نه دی .

دا یو نکل دی چی څو کاله پخوا د دغه کندهار په شاؤ خوا کی بېښ سوی دی . رشتیا چی کله، کله داسی بېښ سوی نکلونه تر جوړ سوو نکلو خوندور او د تعجب وړ وی، پدې ترڅ کی چی دا بېښه تر لوړ عنوان لاندی ولیکل سوه باید [عملی ټوکی] ئې هم وبولو .

څوك چی زموږ د رسم ؤ رواج سره آشنا نه وی نو د هغو دپاره دا څو کرښی د مقدمې په توګه وړاندی کوو، پوهېږم چی دا خبری په ډېرو خلکو ته تکرار هم وی خو یادونه ئې د دې بیان یا مقالې نیمګړتیا ور پوره کوی نور نو دا لنډ نکل چی پخپل روڼ څه قدر خوږوالی هم لری داسی دی :-

زموږ نارینه چی وغواړی د ماندینې څښتن سی نو دا ترتیب دا ډول وی چی د ښځی تعلقداران خپله ښځه پخپله یوه نارینه ته ور کوی ډېر ځله داسی وی چی د نارینه مور یا خور، خاله یا عمه، مامی یا دا کا ماندینه یا یوه بله ښځه چی د دوستانو څخه وی پر کورو ورسمه سی دا نو [مرکه] بولی مرکه کور پر کور؛ کوڅه پر کوڅه ګرزی څو دیوې ښځی څرك وباسی او د خپل نارینه دپاره ئې وړ وبولی بیا نو د نارینه له خوا څو کسه ورسی او هغه خوښه سوې او تاکلې نجلۍ و خپل نارینه ته ور وغواړی .

پدې سلسله کی کله، کله د ښځی خوا هم غواړی چی هغه نارینه یعنی خپل راتلونکی زوم هم وویتی، نو د همدغو مراحلو د طی کولو او پاللو په دوران کی یو وخت داسی پېښه سوه چی د کندهار د ښار د جنوبی سیمی په یوه نژدې کلی کی مرکه یوه کور ته ور غله او د خپل نارینه دپاره ئې یوه نجلۍ خوښه کړه او ستن ؤ تار چی د واده د تړون دود دی دا ئې ځنی راوړه .

او په خوشالی د زوم کره چی هغه بیا د ښار په نواحیو کی ؤ راغله . دا رسم په یوه عادی ډول بشپړ سو مګر د سیسې په منځ کی وې چی هغه د مراحلو طی کولو رسوا کړې څرنګه؟ داسی: دغه نجلۍ چی مرکې ته ور ښکاره سوې وه بله نجلۍ وه او هغه نجلۍ چی د واده دپاره خپلو مشرانو تاکلې وه هغه په سر پکه وه او هیچا نه غوښتله نو د دې نجلۍ مشرانو داسی تجویز کړی ؤ چی مرکه راسی بله سمه نجلۍ به

ورښکاره کوو او د واده په شپه به دغه یکه نجلۍ په لاس ور کوو هغه ؤ چې دغسې ئې هم وکړه مرکې ته ئې یوه بله

نجلۍ ورښکاره کړه چې کړه وړه ئې سم وه، او چې دواده شپه سوه خپله معیوبه نجلۍ ئې جوړه کړه او د ناویتوب کالی

ئې په واغوستل او دواده پر تخت ئې کښېنوله.

دواده دمخه یعنی هغه وخت چې ددې نجلۍ [ستن ؤ تار] د زوم

یووړه سوه دوی [د ناوی خوا] هم وغوښتل چې خپل زوم ووینی کله چې ئې ولید هغه ددوی تر ناوی ښایسته او بې عیبه سړی ؤ

ځکه نو دواده ترشپې پوری د ناوی خوا په اضطراب او بې خوندی او ډېرو اندېښنو دا کار مخ ته واهه ځکه چې

نمونه ئې یو ډول ښکاره کړی وه او مال بل ډول ؤ.

هغه ؤ چې زوم د ناوی کره راغی د واده شپه ده او زوم کوښښ

کوی چې قیافه ئې څوک صحیح نه کی دا بدې وجه چې دوی هم د ناوې خوا ته بل سړی ور ښکاره

کړې ؤ حقیقی زوم یو بدرنګه سړی ؤ او بزه ئې نه درلوده ګواګی دوی هم کټ مټ دغسې کړی وه چې نمونه یو ډول وه

او مال بل ډول.

دا سړی ډېر وخت د دغه ذکر سوی عیب په جهت بې ښځې پاته سوی ؤ او هغه ښځه بې مېړه.

کله چې دواده په شپه دا دسیسې رسوائی ته راووتلې نو وائی په دواړو خوا کی یو عالم خوشالی جوړه سوه د هغه ګروم

څخه چې د دواړو خوا ؤ په پېڅه سوی ؤ تو له خلاص سوه، دواده خوند او ساتېری ئې لس ګرایه سو.

د پېغلی عزیزه «رشاد» ترجمه

اوزولا آیشتت

زموږ په نړۍ کی ډېر خلک ستة چې زموږ مرستی او لاس نیوی ته اړتیا لری او موږ کولای سو چې د دوی د نېکمرغۍ او خوښۍ دپاره کار وکړو، ځکه هر څوک هر څونی عاجزه او لوېدلی وی بیا هم یو کار کولای سی. د یو او بل سره دا مرستی او همکاری زموږ اجتماعی ژوند اسانه او مستریح کوی.

اوزولا آیشتت یوه ښځه ده چې د هندوستان د ځنګلی قبېلو په مینځ کی ژوند کوی او ددې قبایلو ژوند ئې پر مخ ور اړولی دی. دا د هندد [اورسا] په قبیله کی د ۴۳۹۷ ماشومانو مور ده.

اوزولا آیشتت په ۱۹۴۲ کی په المان کی زېږېدلې ده. دی په وړو کتوب کی د پرستاری سره ډېره مینه درلوده او په هغه وړو کوالی کی ئې له تندی څخه د ځیر کتیا او زړه ورتوب نښی ښکاره کېدلې، چې اوس هم د زړه ورتوب یوه نمونه ګڼل کېدلای شی اوزولا د پرستاری په شق کی خپلو زده کړو ته ادامه ور کړه او شاوخوا خلک

نوله بوهېدله چې دا المانۍ نجلۍ به چې د آرین نژاد جذابه بڼه لري، دلو بو خدمتونه صدره وګرځي.

د پرستارۍ د زده کړې د دورې تر پېښېدو او د سره صلیب په موسسه کې د ډېرو خدمتونو اجرا کولو وروسته په ۱۹۵۷ کې د ملګرو ملتونو د صحې سازمان له خوا مامور کړه سوه چې د پرستارۍ په عنوان سره دهند وځنګلونه مسافرت وکړي.

دا ویوې داسې مځکې ته ور رسېدې کېدونکې وه چې د اوسېدونکو دتولو خو بوځنه ئې ناخبره وه او بوازې ئې د هندیانو یا باره کې په کتاب کې بوځه اوستلې وه. دې فکر کاوه چې نوردې ښه کار به چېرې وي چې د داسې خلکو پرستارۍ وکړي چې د مرستې او کړې چې د دواخانې او د ډېرو څخه چوړ کړي کوم چې ترمخه دوی د ونو له ښاخو اوو ښوڅخه چوړول.

د اوزولا کلنیک د ۸۲ کورو په مینځ کې چې د اوسېدو قبیلې د استوګنې ځای دی پروت دی، دې به هغه ځای کې د وریجو، نخودو او زرد کو کښت او کرهنه رواج کړله. اوزولا یوه ماهره ښکاري هم ده، ځینې وختونه مجبوره کېږي چې د خپلو ناروغانو د لیدنې دپاره دوې ورځې د کګنو او سختو ځنګلو په مینځ کې لار ووهي. یوه ورځ چې ددې ډول کتنو دپاره د ځنګله په مینځ کې تېرېدل، یوه [ببر] حمله پرې وکړه او سخته ئې زخمي کړله ترهغه وروسته په هند کې د المان د سفارت له خوا یو ګرانبها نوبل په سوغات کې ورکړه شو.

دا دېره د [ببرانو] یا د [ایږانو] ښکار نه ځي او په مهارت سره ئې ښکار کوي. کله چې اوزولا د شپې له خواد

کې بوازې د ترزیقاتو او زخم تړلو مامور نه وه بلکه د ډېرو سختو کارونو تر اجرا وتله. دې د اورسا په کلي کې ژوند کوي، پردې مځکه باندې دا د سپینې مور په نامه یاد ېدل. کله چې دې په دې ځنګلو کې قدم کېښېښودی او د ساري ناروغیو سره ئې په مبارزه پیل وکړ، د ۱۲۰ کلیوا وسېدونکي ئې له هلاکته څخه وژغورل. اوزولا پېه یوه بېساری فداکاری سره دوی نه دوا او دا کتر برابر کړل او حتی خپل معاش ئې هم ددوی د آرامۍ دپاره والګوی.

دا بوازې د شلوزرو هندیانو په مینځ کې ژوند کوي او د لږ اجورې سره بواهم نه غواړي چې ددې مځکې څخه ووزي او له خلکو څخه ئې ولاړه سي اوزولا تر صحې مرستو علاوه د هندیانو د کورو په جوړېښت کې هم ددوی سره اوښې فکري مرستې کولې. که څه هم دې پدې شق کې تخصص ندرلودی خو بیا ئې هم وهغو قبیلو ته دا د ورځو، نخودو او زرد کو کښت او کرهنه رواج کړله. اوزولا یوه ماهره ښکاري هم ده، ځینې وختونه مجبوره کېږي چې د خپلو ناروغانو د لیدنې دپاره دوې ورځې د کګنو او سختو ځنګلو په مینځ کې لار ووهي. یوه ورځ چې ددې ډول کتنو دپاره د ځنګله په مینځ کې تېرېدل، یوه [ببر] حمله پرې وکړه او سخته ئې زخمي کړله ترهغه وروسته په هند کې د المان د سفارت له خوا یو ګرانبها نوبل په سوغات کې ورکړه شو.

دا دېره د [ببرانو] یا د [ایږانو] ښکار نه ځي او په مهارت سره ئې ښکار کوي. کله چې اوزولا د شپې له خواد

د املا په باب د پښتو ټولنې فیصلې

لومړی فیصله

په ۱۳۲۱ هـ ش کال کې د جوزا په ۲۱ مه د ۱۹٤۱ ع په جون کې د پښتو ټولنې په غونډنه د افغانستان ۲۵ تنه لیکوال او پوهان په پښتو ټولنه کې راغونډ شوه او په ۲۱ اختلافي موادو باندې ئې وروسته له بحثه فیصلې وکړه چې دالاندې کلمات داسې ولیکل شي:-

[اختلافي صورتونه]	[فیصله شوې صورتونه]		
شوندې، شونډان	شوندې	اوبه، او توبه، تو	اوبه توبه
کښېناست، کښېنوست	کښېناست	مېړونه، مړونه	[او داسې نور] مېړونه
ټول خلق، ټوله خلق	ټول خلك	ولید، ولیدو، ولیدې، ولیدلو	[ولید] په ټولو ماضي-
ټولې خبرې، ټوله خبرې	ټولې خبرې	ګانو کې دغه بوشکل غوره شو مګر په ځینو	
یاته، یاتې	یاتې	کې په آخره کې [ه] هم ور زیاتوي لکه	
کېراغلی وای، کېراغلی وی	کېراغلی وای	وواهه .	[نور یې ۳۰ مخ کې]

---

* ناروغانو کتنې نه ورځې یې
بوملاس کې ټولیك او یې بلاس
کې ئې پطرولي څراغ وي
ملګرو ئې بستې او بکسونه

چې د سرې میاشتې لخښې
باندې وې، ورسره اخستې وې
پدې بستو کې د ناروغانو د رمل
اوژغورلو دپاره دواوې او

اسپابونه وې .
کله چې اوزولا د المان د
سفارت څخه درخصتې اخیستلو
دپاره نوې دېلې نه راغلې وه

دوه ورځې کې ورسره وه چې د
پلارا او مور ددواړو له خواڅخه

یتیمان وه پلارئې بوه څیرونکې
بېر وژلې او مورئې پرانګون
مړه شوې وه، ارس ئې او اوزولا
مور ګڼل کېدله او دې ساتل

تردې دوو یتیمو ورو کو تېر
د قبیلې ټوله ورو کې اوزولا
خپله سپینه مور بولې .
کله چې اوزولا د رخصتې

اخستلو دپاره ځنګل پرېښووې
د قبیلې ټوله افراد پر راټول
شول د ځنګل ورو کو د خپلې
وفاداري سپینې مور چې د هر

بوه یې زړه کې ئې ځای درلودې
دنللو په نسبت ژړل ځکه چې

نور څوك نه وه چې ددوې
پرستاري ئې کړې وای، ددې
ځای له طاقت څخه تېرې
تو دوخې ددې بڼه د ختیځ د

بوې ښځې په ډول کړې وه او
په مشکله ئې د بوې هندې
ښځې څخه تو پیر کېدې په تېره
بیا چې ددې فیافه هم د نژاد

له حیثه بوخه د هندې ښځو په
ډول ده، او دا بوشې والې ئې
د محلې کالو په اغوستلو دېر
بشپړ سوېدې .

. . .

اختلافي صورتونه	فيصله شوي صورتونه
لڅ ، لوڅ	لوڅ
وشو - وسو	وشو
شوی - سوی	شوی
شته - سته	شته
شی ، سی	شی
لږه ډوډۍ ، لږې اوبه ، لږ ډوډۍ ، لږ اوبه	لږه ډوډۍ ، لږې اوبه
ښې خبرې ، ښه خبری	ښې خبری
غږ ، ږغ ، غګ ، غاګ	ږغ ، غږ
ځینی وایی ، ځنی وایی	ځینی وایی
له ده ځنی ، له ده ځینی	له ده ځنی
چلوونکی ، چلونکی	چلوونکی
ښوونکی ، ښونکی	ښوونکی
ښوونځی ، ښونځی	ښوونځی
ویل ، ویله [لکه احمد ویله چی]	ویل
ولاړ ، لاړ	ولاړ اولاړ دواړه صورته صحیح دی
وکړ ، وکی ، وکه	وکړ
وکړیء ، وکیء	وکړیء
زما ، زمونږ ، زموږ ، ځما ، ځمونږ	زما ، زموږ او زمونږ دواړه صورته صحیح دی
مونږ ، موږ	مونږ او موږ » » » »
زه ؛ ځه [د متکلم ضمیر]	زه

دوهمه فیصله

په ۱۳۲۷ش کی د سنبلې په ۸مه د ۱۹۴۸ع د اګست په ۳۰مه په کابل کی د پښتو ټولنی په غوښتنه داری او بری پښتونخوا ۱۹ تنو پښتنو لیکوالو او پوهانو د پښتو لیک د ځینو اختلافی موادو په باب داسی فیصله وکړه :-

اختلافي صورتونه	فيصله شوي صورت
ڼ ، ڼړ	ڼ
زه، ته، ده، زۀ، تۀ، دۀ	زه، تۀ، ده، بې همزې په ټولو دغسې مثالو کې
اورېدل، اخيستل، آورېدل، آخيستل	اورېدل، اخيستل، [بې مده]
وليد، وګوره، اوليد، اوګوره [داسې نور]	وليد، وګوره [بې الفه]
مې، دې، پرې، لاندې، باندې، م، پر، لاند، باند [داسې نور]	مې، دې، پرې، لاندې، باندې
لومړی، کوچنی، ګوډ، ګوته، بوخت، لمړی، کچنی، ګډ، ګته، بخت	لومړی، کوچنی، ګوډ، ګوته، بوخت
چاپ، ګړۍ، چهاپ، ګهړۍ	چاپ ګړۍ
ښ	داتوری به د [ش] او [خ] په ځای نه ليکو
ږ	داتوری به د [ژ] او [ګ] « « « «
ځ	داتوری به د تلل د مصدر په فعل حال او دغسې نورو افعالو کې ليکو لکه ځي، بوځي، راځي.
ژوند، جوند، زوند	ژوند، پدغسې لغاتو کې به له [ژ] نه کار اخلو
ځينې، ځنې	د بعضې په معنی به [ځينې] او د [از] په معنی به [ځنې] ليکو
ويل، وې	ويل [بوازې په شعر کې [وې] جايز دی]
کښې، کښې	کښې
د ماضي بعيد ضميرونه	وم، وو، وې، وې ء، و، وه، و، وې، يعنی د مفرد غايب او جمع غائب د پاره يو [و] ليکل کېږي.
د شول د مصدر مشتقات	شوم، شوو، شوې، شوې ء، شو، شول، شوه، شوی بايد وليکل شي
د ټولو افعالو د مذکر جمع ټولې مطلقې ماضي ګانې	په لام ليکل په کار دی لکه راغلل، وليدل، بايد داسې وليکو: وليد، وکوت، وکړ. مګر وتاړه وواهه بايد په آخره کې [ه] ولري.

فيصله دريمه

په ۱۳۳۷ ش ه ۱۹۵۸ ع کې چې د پښتو ټولنې په بلنه د پېښور او بلوچستان پښتانه ليکوال او پوهان کابل ته د خپلواکۍ د جشن په ورځو کې راغلي ؤ د سنبلې په پنځمه د اګست په ۲۷ د پښتو ليک په باب مجلسونه او ادبي بحثونه شروع شوه وروسته له څو غونډو او ډېرو څېړنو د ليک د ځينو اختلافي موادو په باب دا راز فيصله صادره شوه :-

مختلف صورتونه	فیصله شوی صورت
ځمکه، مځکه، زمکه	ځمکه
زمری، مزری، ځمری	زمری
کښته، ښکته، ځکته	کښته
ښښه، ښپه، ځپه	ښښه
کښل، ښکل [دایکلو او ویستلو په معنی]	کښل
کښلی [دښایست په معنی]، ښکلی	ښکلی
ماسخوتن، ماخوستن	ماسخوتن
ورځ، روځ	ورځ
موږی، میږوی	موږی
اوښت، واښت	اوښت
ورك، روك	ورك
خسر، سخر	خسر
خوسا، سخا	خوسا
سکروته، سروتکه، سکوروته	سکروته
ورور، رور	ورور
ورونه، رونه	ورونه
ورور ولی، رور ولی	ورور ولی
وروسته، روسته، روستو	وروسته
وروستی، روستی	وروستی
سیوری، سوری	سیوری
اخلم، اخلی، اخم، اخی؛ الم، الی	اخلم، اخلی
بښل، بښنه، بخښل، بخښنه	بښل، بښنه
ماسپښین، مازښین، ماښین	ماسپښین
کوم، کم	کوم
اغږل، اخښل، اخل	اغږل
نمری، مری، نوری	نمری

مختلف صورتونه	فیصله شوی صورت
زوی، زامن ؛ ځوی؛ ځامن	زوی، زامن
زېږېدل ، ځېږېدل	زېږېدل
زغستل ، ځغستل	زغستل
ځلمی ؛ زلمی	ځلمو
سوځل ؛ سېځل [سوزل،سېزل]	سوځل ؛ سېځل
خوځېدل ، خوزېدل	خوځېدل
غورځنګ ، غورزنګ	غورځنګ
زغمل ، ځغمل	زغمل
ژرنده، زرنده؛ جرنده	ژرنده
ژبه ، زبه ؛ جبه	ژبه
ژړا ، زړا ، جړا	ژړا
ژوند ، زوند ، جوند	ژوند
ژمی ، زمی ، جمی	ژمی
ژوبل ؛ زوبل ، جوبل	ژوبل
خیژی خیږی ، خیجی ، خیزی	خیژی
ژی ، زی ، جی	ژی
ژور ، زور ، جور	ژور
انژدې ، انزدې ، انږدې	انژدې
امر ، انمر ، انور ، مر ، میر	امر ، انمر
انمسی ، المسی ، انوسی	انمسی، المسی
امونځ ، انمونځ ، مونځ	امونځ ، انمونځ
انمانځه ، امانځه ، مانځه	انمانځه ؛ امانځه
پسرلی ، سپرلی	پسرلی ؛ سپرلی
زغ ، غږ	زغ ، غږ
کنځل ، ښکنځل	کنځل، ښکنځل
مینځل ، وینځل	مینځل؛ وینځل

مختلف صورتونه

مینځه ، وینځه

لامده ، لانده

جینۍ ، نجلۍ ، جلۍ ، جیلۍ

لمبر - نمبر

نولس - نونس

وېره - بېره - اېره

ویده - بیده - اوده

ویاله - بیاله - واله

اوبدل - اودل - اوبل

وزه - بزه - بیزه

نښتل - مښتل

بزرګان - ملکان - بزرګانان - ملکانان

کارغه - قارغه - کارګه

ڼ - نړ

کجیر - قجیر

ټوکه - پړك - چکړی - ټوقه - پړق - چقړې

زړه - ته - زه - زړۀ - تۀ - زۀ

لوی - دوی - هغوی - لو - ذویء - هغویء

لوېدیز - وویل - لوئیدیز - اووئیل

یو - اینده - یوه - ائینده

ې

فیصله شوی صورت

مینځه ، وینځه

لامده ، لانده

جینۍ ، نجلۍ

لمبر

نولس

وېره

ویده

ویاله

اوبدل - اودل

وزه

نښتل

بزرګان - ملکان

کارغه

ڼ

کجیر

ټوکه - پړك - چکړې

زړه - ته - زه

لوی - ذوی - هغوی

لوېدیز - وویل

یو - اینده

دا توری [مجهوله یا] باید بېځایه اود معروفی [یا] په ځای استعمال نشی .

د سکندر وروستي ليک

د مور په نامه

ګراني موري !

زه دا ليک په داسې حال کې وتاته ليکم چې دا ګړي يا بل ګړي به زما روح له بدن څخه ليري کېږي .

موري! د خداي [ج] اراده وسوه چې زما د ژوند کمبله دي توله سي د خداي د امر په مقابل کې څوک څه نه سي ويلاي دده و امر ته تولو موجودا و د تسليم سرايښي دي، نو زه يوه ذره څه کولاي سم؟ او بېله دې وينا چې هر امر مې پر سترګو منلي دي نو رڅه نسم ويلاي .

ګراني مور! د مرګ مخ نه ثروت او نه دولت ګرزولاي سي که په ثروت او په دولت واي د مځکې د مخ تول بډايان او ستر تولوا کان به اوس د ژوند پر ډګر واي . او نه کوم دارو د مرګ د رمل کولاي سي، په دې ځاي کې جالينوس، لقمان او نور حکماء ماشومان دي په دې بې وفا نړۍ کې د هر شي بند تړل کېږي مګر داسې څوک به نه وي پيدا سوي چې د مرګ بند وي تړلي وي .

ګراني موري! که غواړې چې زما روح په قبر کې ښاد کې، زما په مرګ ډېر مه خواشيني کېږه ځکه چې زه په ډېره خواشيني اوژړا بېرته نه ژوندي کېږم نو څه فائده ؟ صبر و سکته د پاک خداي و دربار ته وکه .

په پاي کې زه ستا څخه غواړم چې زما د مرګ پر کمبله هغه څوک کښېنوه چې په تول ژوند کې ئې لږ غم ؤ درد نه وي ليدلي .

ستا زوی «سکندر»

KANDAHAR

MONTHLY MAGAZINE

OFFICE:-

PRESS DEPARTMENT

KANDAHAR, AFGHANISTAN

EDITOR A.M 'KARZI'

SEPTEMBER 1962

GOVERNMENTAL PRESS